مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نجیب‌الله پتمن

۲۰۲/۱۲/۲۸

یادونه، دردونه، ټپونه

د تاریخ یو غوره سبق

آدم زاد پـــــه معنـا واړه یو صورت دی
هر چې بـــل آزاروي هغـــــه آزار شي

(رحمان بابا)

۱۳۵۸ کال د جدی شپږمه
ایا له نن ځلور څلویشت کاله مخکې څه پیش شول ؟
انسان د تضادونو ټولګه ده ، کله ظالم کله مظلوم ، کله خواخوږي او کله بی رحمه ، که په واک کې وي ظالم وي او تر واک لاندې بیا مظلوم وي

پرونی او د نن واکمنان وګورئ !
کله چې د واک معادله دانساني عقل په فارمول حل نشي بیا حریص واکمنان د واک معادله د ټوپک په ګولیو حل کوي چې دا ډول حل د زرهاوو انسانانو د ژوند په بیه تمامیږي.
د ۱۳۵۷ کال د ثور کودتا د زیاتره افغانانو په ژوند کې له ناورین ډکه پیښه وه، د نن په څیر یوی ماجراجویي ډلې ټوپک ته لاس کړ او افغانان یې په خپلو سپیڅلو وینو ولمبول ، د افسوس خبره داده چې دا خوني ښامار د افغان په سینه لاره جوړه کړه او تر ننه ډول ډول ښامارانو خوار او بې وزله ولسونه تر ستونی ژوندي تیر کړل.
راځم اصلي مطلب ته :
په اتلس میاشتو کې سیاسي هوا دومره ککړه وه چې هیڅوک نه پوهیدل ټولنه او خلک په کوم لور روان دي ،جنت ته او که دوزخ ته ، مګر انسان ته خدای تعالی ورکړی ستر نعمت سالم مغز ، عقل او تدبیر دی چې د نن حالات د مغز په لابراتوار کې شننی ، سپړی او څیړي او دسبا د حالاتو سم وړاندینه کوي.

د خلک دموکراتیک ګوند مستبدو واکمنانو په اتلسو میاشتو واکمنۍ کې افغان ټولنه چې د سترو ویجاړونکو او وحشتناکو بدلونونو شاهده وه، په ملیونونو خلکو هیواد پریښود او خپله هیواد کې د خلکو ژوند د سرخلاصی زندان په معنی وو.هیچا د خپل سبا برخلیک وړاندیز نشوی کولي. زما سلا ځوان نسل ته داده چې د ثور انقلاب د اتلس میاشتو د انقلابي کارنامو تاریخ په غور ولولئ .

موږ ته څه راپیش شول؟
افغانانو ولې دا ناخوالې وزغملې ؟
د خلقیانو په استبدادي حاکمیت کې په زرهاوو پوځي افسران ، ملکي مامورین، د پوهنتون او ښوونځیو استادان ، محصلین او زده کوونکي د ثور انقلاب پر ضددکودتا په تور د پلچرخي په زندان کې بندیان وو ، زیات شمیر یې له قانوني محکمې پرته د پلچرخي په پولیګون کې ګولۍ باران شول کوم څوک به چې له زندان راووتل ، ټول پاتې عمر د نیمګړی مات ژوند د ټپ څخه کړیدل.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

یو خوا پاڼ بل خوا پړانګ وو.د اسلام مجاهدینو به دولتي مامورین او پوځیان په لویو لارو کي له موټرو ښکته او ژوندی به یي ورک کړل.

د ۱۳۵۸ کال د قوس میاشت وه په کابل ښار کي عجیبه ویرونکي چوپتیا خپره وه . هره ورځ په هوا کی په لسهاوو د شوروي اتحاد پوځي ترانسپورتي الوتکي لیدل کیدي او د بګرام په پوځي اډه کي به لنګر اچول ، هر چا له ځانه پوښتل مګر هیڅوک نه پوهیدل چي څه لوبه روانه ده، ځکه چي د افغانانو د برخلیک سناریوله هیواده بهر بهرنیو جوړه او پلان کړی وه او هغوی د سیاست په ستیژ لوبغاړي و، موږ افغانان مازی بیوسه نندارچیان و .
د حفیظ الله امین او نورمحمد تره کی د پلویانو تر منځ بی باوری بالاخره په نه پخلاکیدونکی دښمنی بدله شوه او د دوی تر منځ د اړیکو ټول پلونه ونړیدل .
د ۱۳۵۸ کال د جدی پنځمه نیټه مازدیګر مهال د یو ژوندی شاهد په توګه د دارالامان ولسمشری ماڼی مخ ته حالات داسي ولیدل :
د مازدیګر په وخت شاوخوا پنځه بجي د ګوندي او دولتي لوړ پوړو مشرانود موټرو کاروان راورسیدل ، د ګارد قوماندان جګړن جانداد وو ، هغه دمرکزی کمیټي او وزیرانو موټرو ته د ننه کیدو اجازه ورنکړه، پدغه ډله کي یو پوځي افسر چي زموږ کلیوال د مرکزی کمیټي غړی او د دفاع وزارت لوړ پوړی چارواکی هم وو، زما ورور او زه ولیدلو او روغبړ را سره وکړ . هغه وویل امین صاحب ناروغ دی او موږ یي پوښتنی ته راغلي یو. دا ډله د دارالامان ماڼی د ننه شول.
زما مشر ورور د اوبو انجینر وو چي د دارالامان په ماڼی کي ژوری څاګاني پلان او وکیندي ، د ګارد انظباطانو ورته وویل چي د ګارد قومندان امر کړی چي ژر تر ژره سیمه پریږدئ او تخنیکي وسایل بیرته اصلي قرارګاه ته انتقال کړئ .
لنډه داچي قوماندان جانداد یو کوچنی خپلسری واکمن وو چي پرته له امین د بل هیچا امر نه منل . ورور می خپلو کسانو ته وویل تخنیکي وسایل بیرته ددفاع وزارت ودانیو چارو د ریاست په پارک کی ودروئ او سبا به خبري کوو.

ورور او زه ناوخته کورته راغلو، زموږ کور په نورمحمد شاه مینه کي وو. کله چي موږ د ماښام ډوډي وخوړه ، دسپکو او درنو وسلو غږ د دارالامان ماڼی شاخوا پیل شو ، ملي تلویزون اعلان وکړ چي د کوټی پردي بندي او څراغونه مه لګوئ. دشپي تر ناوخته جګړي دوام وکړ او کله چي سهار د جدی شپږمه راپورته شوو.
د تاریخ پاڼه واوښته ، حفیظ الله امین او جانداد خپلو نږدی دوستانو دسور پوځ افسرانو ووژل ، د کابل ښار او لویو ښارونو کي واک د شوروي اتحاد سرو پوځیانو په ولکه کي د لسو کلونو لپاره ولویدل.
لنډه دا چي پرونی مظلومان کارمل او ډله یي د سبا ظالمان شول او د نن ظالمان امین او ډله د سبا مظلومان شول.
د پرون مظلومان د نن واکمنان شول او دپرون ظالمان د پلچرخي زندان په تورو کوټو کي لس کاله د مظلومیت ژوند تیر کړ.

افسوس چي موږ د تاریخ له سبق عبرت وانه اخیستل او نه مو د خپلو فاحشو تیروتنو له کبله توبه او پشیماني وښوده.

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ